


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 25 سپتمبر 2014 میلادی

# خوب

زه ويده وم پــه ژړا را پا سيدمه
په تلواره د مور خواته ودريدمه
"مور مي وايلي" څنګه دومره وارخطا يی ؟
"ولی څــــه در باندی شوی په ژړا يی ؟"
په سلګو سلګو يی پښو ته ولويدمـــه
ښه شو خوب و کنی زه هم مړه کيدمه
ما ويل موری زه په خوب کی وارخطا شوم
چی ته نه يی خدای دی نه کړی په ژړا شوم
نرم لاس يی ځمـــا په ســــر باندی را تير کړ
زړه می جمع شو درست غمونه می خپل هير کړ
ما ويل موری ستا لاسونه ښه دوا دی
خدای ته جيګ زمونږ لپاره په دوعا دی
ټول دردونه ځما له مور ورک کړه ای ربه
خوش خندانه وی بــــــی درده او بی تبه
ښکلی مخ ستا د بريښنا په شــان ځليږی
ستا بريښنا هم چی تا وينی خوشحاليږی
****

محب الرحمن « خطیبي »
خيرخانه ۱۳۹۲\۲\۲۲

www.said-afghani.org بازګشت به صفحه اصلی